اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

دا مضمون"نیکی کی دعوت" صفحه 302 تا 310، 312 تا 314 او 332 تا 340 نه اخستے شوے دے۔

# د انسانيت د ټولو نه لوئے خدمت

## د درود شريف فضيلت

**يو** بزرګ يو کس د وفات نه پس په خوب کښې اوليدلو، تپوس ئې ترينه اوکړو: **مَافَعَلَ اللّٰهُ بِكَ**؟ يعني **الله** پاک تاسو سره څه معامله اُوفرمائيله؟ هغه اُووئيل: **الله** پاک زه اوبخښلم. تپوس ئې ترينه اوکړو: په څه سبب؟ هغه اُووئيل: ما به د يو **مُحَدِّث** صاحب سره حديثونه ليکل، هغوئي د **الله** پاک په آخري نبي **محمّدِ** عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دُرُود شريف اولوستلو نو ما په اوچت آواز دُرُود شريف اولوستلو، حاضرو خلقو چې واوريدلو نو هغوئي هُم دُرُود شريف اولوستلو نو **الله** پاک د هغې په برکت مونږه ټول اوبخښلو. (القول البديع، ص254)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د نافرمانو نه خلق کرکه کوي

ګناه کول په دواړه جهانو کښې د نقصان او تاوان سَبَب دے، او د خلقو د زړونو نه هم د ګنهګارانو عِزَّت ختم شي. په دې باره کښې د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارے **مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنه** نه چاپ شوې د 853 صفحو کتاب **"جہنم میں لے جانے والے اعمال"** جِلد اول صفحه 66 نه67 پورې د **نیکئ د دعوت** د مَدَني ګلونو خوشبو لرونکې 6 روايتونه واورئ:

(1) اُمُّ الْمُؤمنين حضرت سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا حضرت سَيِّدُنا اَمير مُعاويه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ته

تاجِ شاہی کا میں نہیں طالِب
کر دو رحمت کی اِک نظر آقا (وسائلِ بخشش ص350)

نه یم طالب د بادشاهۍ د تاج        اوکړئ د رحمت یو نظر آقا

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّى اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د ګناهونو شپږ علاجونه

زمونږ بُزُرګانِ دِین رَحِمَهُمُ الله به د "نیکۍ د دعوت" ورکولو ډیر ښکُلے انداز لرلو چنانچه د حضرت سَیِّدُنا اِبراهیم بِن اَدهَم رَحْمَةُ اللهِ عَلَیه په خِدمَت کښې یو کس حاضر شو او عرض ئې اُوکړو: یا سَیِّدي! زما نه ډیر ګناهونه کیږي، تاسو مهرباني اوکړئ! او د **ګناهونو عِلاج** راته وښائي. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیه ورته **اولنۍ نصیحت** دا اُوفرمائیلو: چې کله د ګناه پخه اراده اوکړې نو د **الله تعالیٰ** رِزق خوړل پریږده. هغه کس په حیرانتیا سره عرض اُوکړو: حضرت! دا تاسو څنګه نصیحت کوئ! دا چرې کیدے شي؟ حالانکه رزّاق جَلَّ جَلالُه هم هغه دے، زه چې د هغه رزق خوړل پریږدم نو د چا رِزق به خورم؟ اوئې فرمائیل: اُوګوره، څومره بَده خبره ده چې د کوم پروردګار جَلَّ جَلالُه رِزق خورې د هغه نافرماني هم کوے! بیا ئې ورته **دویم نصیحت** اُوفرمائیلو: چې کله هم د ګناه اراده اوکړې نو د **الله تعالیٰ** د مُلك نه بَهر اُوځه. عرض ئې اُوکړو: حضرت! دا هم نه شي کیدے! مشرِق، مَغرِب، شمال، جنوب، ښي طرف ته، ګڅ طرف ته، لاندې، بَره، غرض دا چې کوم ځائے ته ځم ټول د **الله تعالیٰ** مُلك دے، د **الله**تعالیٰ د مُلك نه بَهر څنګه لاړ شم! اوئې فرمائیل: ګوره! څومره بده خبره ده چې د **الله تعالیٰ** په مُلك کښې هم اوسیږې او د هغه نافرماني هم کوے. **دریم نصیحت** ئې ورته دا اُوفرمائیلو: چې کله پخه اِراده اوکړې چې بس اوس ضرور ګناه کووم نو خپل ځان دومره پټ کړه چې **الله**تعالیٰ دې نه وینې. عرض ئې اُوکړو: صاحِبه! دا چرې کیدے شي چې **الله تعالیٰ** ما نه وِیني، هغه خو د زړونو په حالاتو هم خبردار

دے. اوئي فرمائيل: اُوګوره، خومره بَده خبره ده چې ته **اللّٰه** تعالٰی سَمِيع و بَصِير (يعني اوريدونکے او ليدونکے) هم مني او دا هم په يقين سره وائي چې **اللّٰه** تعالٰی ما هر وخت **وينې** او بيا هم ګناهونه کوے. **څلورم نصيحت** ئې ورته دا اُوفرمائيلو: کله چې **مَلَكُ الْمَوت** سَيِّدُنا عِزرائيل عَلَيْهِ السَّلَام ستا د رُوح ويستلو د پاره تشريف راوړي نو هغوئي ته وايه چې لږ مُهلَت راکړئ چې زه توبه اوباسَم . عرض ئې اُوکړو: حضرت! زه څه طاقت لرم او زما خبره به څوك اُومني؟ د مرګ وخت مُقَرَّر دے، ما ته به د يو ساعت مُهلَت هم رانکړے شي او زما نه به فوراً رُوح واخستے شي. اوئي فرمائيل: چې تا ته دا معلومه ده چې زه بے اِختياره يم او د توبه وِيستلو مُهلَت هم نه شم حاصلولے، نو فِي الحال درکړے شوي ساعتونه غَنِيمَت ولے نه ګڼړې او دَ **مَلَكُ الْمَوت** عَلَيْهِ السَّلَام د راتلو نه مخکښې **مخکښې** توبه ولے نه اُباسې، **پينځم نصيحت** ورته هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه دا اُوفرمائيلو: کله چې ته مړ شې او په قبر کښې درله **مُنکَر نَکِير** تشريف راوړي نو هغوئي د قبر نه لرې کړه. عرض ئې اُوکړو: محترمه! دا تاسو څه وائې! زه هغوئي چرې لرې کولے شم! په ما کښې دومره طاقت نشته! هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه اُوفرمائيل: چې ته **نَکِيرَين** نه شې لرې کولے نو د هغوئي د سوالونو د جوابونو تياري د اوس نه ولے نه کوے؟ **شپږم او اخيري نَصِيحَت** ئې ورته دا اُوفرمائيلو: که په آخرت کښې درته د جَهَنَّم حکم واورولے شي نو اووايه چې: زه نه ځم. عرض ئې اُوکړو: باباجي! هلته خو به ګنهګاران دوزخ ته په راښکلو غورزَولے کيږي. اوئي فرمائيل: چې ته د **اللّٰه** تعالٰی رزق هم نه شې پريښودے، د هغه د مُلك نه بَهَر هم نه شې وَتلے، د هغه نه پټيدے هم نه شې، **مُنکَر نَکِير** هم نه شې لرې کولے او که د جَهَنَّم حکم درته واورَولے شي نو د هغې نه هم نه شې بچ کيدے نو بيا ګناه کول ولے نه پريږدې!هغه کس ته چې سَيِّدُنا اِبراهيم بِن اَدهَم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه **د ګناهونو د علاج** دا شپږ د نصيحت خوشبوداره **مدني ګلونه** وړاندې کړل نو په هغه ډير اثر اوشو، ډير زيات ئې اوژړل او د خپلو ګناهونو نه ئې په رښتينې توبه اُوکړه او د مرګ د ساعته پورې په توبه باندې قائم پاتې شو. (مُلَخَّص از تذکِرَةُ الاولياء ص 100)

## اللّٰه پاک وِيني

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! په ذِکر کړے شوي حکايت کښې ښودلي شوي د ګناهونو شپږ علاجونه ډير اثر لري، د ګناه اراده کولو په وخت کښې که دا ياد اوساتلے شي نو د ګناهونو نه د بچ کيدو ډير غټ سَبَب جوړيدے شي.يقيناً که صِرف دا خبره زمونږ په ذِهن کښې پخه پريوځي چې ''اللّٰه [هر څه] وِيني'' نو بنده به ګناه ته نزدې هم نه شي. د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي ادارے **مَکتَبَةُ الْمَدِينه** چاپ شوي رسالے ''**گناہوں کا علاج**''صفحه 12 نه 14 کښې دي: واقعي که څوک دا اِحساس په خپل زړه کښې پيدا کړي چې د ګناه کولو په وخت کښې زما ساتونکے **پروردګار** جلّ جلالہٗ **ما وِيني**، د دروغو وئيلو په وخت کښې که فوراً دا خيال اوکړي چې زه په دروغو وئيلو بنده ته خو دوکه ورکووم او هغه عاجز به ما رِښتينے هم ګڼړي خو **اللّٰه تعالٰی ما وِيني**، آو بالکل، **اللّٰه تعالٰی** ته د هر يو نيَّت ښکاره دے. د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي ادارے **مَکتَبَةُ الْمَدِينه** چاپ شوي د ترجَمے والا پاکِيزه قُرآن '' **کنزُالاِيمان مَع خَزَائِنُ الْعِرفان**'' څلور وِيشتمه سيپاره، صفحه 866 **سُوْرَةُ الْمُؤمِن** آيت 19 کښې دي:

يَعْلَمُ خَآىِٕنَةَ الْاَعْیُنِ وَ مَا تُخْفِی الصُّدُوْرُ ﴿۱۹﴾

(پ24،المؤمن:19)

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: اللّٰه خبر دے په پټه په غلا ليدلو کتلو او څه چې پټ دي په سِينو کښې.

**صَدرُ الافاضِل** حضرت علّامه مَولانا سَيِّد **محمَّد نَعِيمُ الدِّين** مُراد آبادي رحمۃ اللہ علیہ د دې آيت لاندې ليکي: يعني د سترګو خِيانَت او پټ پټ غير مَحرمو ته کتل او په منع کړے شوي څيزونو نظر اچول د **اللّٰه تعالٰی** په عِلم کښې دي.(خزائن العرفان ص866)

## نفسياتي آثَر

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! که فکر اوکړۍ نو انسان د انسان نه ډير يَريږي. مَثلاً د مور او

پلار یا د اُستاذانو په مخکښې کنزلې کولو نه یریږي، خو افسوس د الله تعالیٰ نه کماحَقُّه (یعني څنګه چې د هغه حق دے هغه همره) نه یریږي، که چرې رُعب دار کس موجود وي نو د هغه نه دومره یَریږي چې د خُلې نه ئې آواز هم نه اُوځي، د هغه سره په عاجزئ د خبرو کولو او اوریدلو کوشش کوي. اے کاش! چې د الله تعالیٰ ویره زمونږ په زړونو کښې پیدا شي، کاش! چې هر وخت راباندې د هغه د ویَرې غلبه وي او څنګه چې مونږه د خلقو په مخکښې بد کارونه کول نه خوښوو دغسې په یواځې ځائے کښې هم د بدو کارونو نه ځان ساتو. اے کاش! په کروړونو کاش! چې زمونږ په ذِهن کښې هر وخت دا خبره پخه اُوسي چې **الله تعالیٰ وِیني** او دغسې مونږ **د خپلو ګناهونو په علاج** کولو کښې کامیاب شو.

چُھپ کے لوگوں سے کئے جس کے گناہ　　　وہ خبردار ہے کیا ہونا ہے
ارے او مجرم بے پروا دیکھ　　　سر پہ تلوار ہے کیا ہونا ہے(حدائق بخشش)

شرحِ کلامِ رضا: اعلیٰ حضرت رحمۃُ اللہ علیہ په دې شعرونو کښې په یو مخصوص انداز کښې د نیکئ دعوت ارشاد فرمائیلے دے چنانچه د دې شعرونو مفهوم دا دے: (1) اے ګناه کونکیه! تا خو خپل ګناهونه د خلقو نه پټ کړل خو دا دې هیر کړل چې د کوم الله تعالیٰ نافرماني دې کړې ده هغه ستا د دې کارنامو نه خبردار دے. اوس غور اُوکړه! په مَحشَر کښې به ستا څه حال وي! (2) اے غافله او مُجرِمه! ستا په سر هر وخت د مرګ تُوره رازوړنده ده، د خدائے پاك نه اُویَریږه! ګناهونه کول پریږده، که چرې تا په بے پرواهئ سره د ګناهونو نه ډك ژوند تیر کړو او مړ شوې نو ستا به څه کیږي!

زندگی کی شام ڈھلتی جارہی ہے ہائے نفس!　　　گرم روز و شب گناہوں کا بس بازار ہے
مجرموں کے واسطے دوزخ بھی شعلہ بار ہے　　　ہر گنہ قصداً کیا اسکا بھی اقرار ہے
بندۂ بدکار ہوں بے حد ذلیل و خوار ہوں
مغفرت فرما الٰہی! تو بڑا غفّار ہے

ژوند په ختمیدو دے اے غافِل نفسه!　　　ته اخته ئې شپه او ورځ د ګناهونو په بازار
د دوزخ تورې لمبې دي د پاره د مجرم　　　هره ګناه قَصداً شوې، هُم کووم د دې اِقرار
زه بنده یم ډیر بدکاره، یم ډیر زیات ذلیل و خوار

مغفرت مې اوفرمائے اِلٰهى! ته ئې لوئے غفّار

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د نیکئ د دعوت پينځه مدني ګلونه

په يو اُوګرد حديث کښې دا هُم دي چې: حضرتِ سيِّدُنا ابُو ذر غِفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ عرض اُوکړو: يا رَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حضرتِ مُوسٰى عَلَیْہِ السَّلَام په صَحِيفو کښې څه وو؟ اوئې فرمائيل: په هغه ټولو کښې د عِبرت خبرې وې ﴿1﴾ تَعَجُّب [يعني حيرانتيا] ده په هٰغه کس چې هغه د مرګ يقين ساتلو باوجود هُم خوشحاليږي ﴿2﴾ تَعَجُّب [يعني حيرانتيا] ده په هغه چې د جهنَّم د يقين کيدو باجود هُم خاندي ﴿3﴾ تَعَجُّب [يعني حيرانتيا] ده په هغه چې څوك په تقدير د يقين ساتلو باوجود (د دُنيا د پاره) ځان سترے کوي ﴿4﴾ تَعَجُّب [يعني حيرانتيا] ده په هغه، څوك چې دُنيا او د دې بدليدل وِيني، بيا هُم په دې مُطمئِن کيږي او ﴿5﴾ تَعَجُّب [يعني حيرانتيا] ده په هغه، څوك چې يقين لري چې صبا به هغه حساب ورکوي، بيا هُم (نيك) اعمال نه کوي.

(اَلاحسان بترتيب صحيح اِبنِ حِبَّان ج1 ص288 حديث 362)

## اِنفِرادي کوشش د "نيکئ د دعوت" رُوح دے

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د نيکئ د دعوت رُوح "اِنفِرادي کوشش" دے. په کوم مسلمان باندې چې د نيکئ د دعوت پيش کولو د پاره اِنفِرادي کوشش کول غواړئ نو د هغې د پاره دا ذِهن جوړَول پکار دي چې زه اوس د چا سره مِلاقات کولو والا يم هغه يو مسلمان دے، مُسلمان که هر څومره ګنهګار وي خو د ايمان د دولت نه د مُشَرَّف کيدو په وجه د هغه خپل يو مقام وي او زه ملاقات هم د الله تعالٰى د دِين د سربُلندئ او د خپل آخِرت د بهترئ د پاره کووم، په دې نِيَّت زما ملاقات کول د عِبادت درجه لري، که په دې نِيَّتونو ملاقات اوکړئ نو اِنْ شَآءَاللهُ الکريم په دې موقع به رحمتونه نازليږي او برکتونه به حاصليږي. يو خاص مَدَني ګل دا هم

ياد ساتئ چې د هغه عيبونه مه لټوئ، د هغه د عقل نه اُوچتې (يعني چې د هغه عقل پرې نه رسي داسې) خبرې مه کوئ او جَوَړې مَسئَلے مه چيړئ.

## ”يا الله نرمي راکړې“ د پينځلّسو حُروفو پـه نِسبت د اِنفِرادي کوشش 15 نِيّتـونه

دَ اِنفِرادي کوشش کولو په وخت کښې د موقعې په مُناسَبَت بيشميره **نِيّتونه** کيدے شي، په هغې کښې **15** نيتونه پيش کيږي: (1) د **الله** د رضا د پاره **د نيکۍ د دعوت** ورکولو د پاره به اِنفرادي کوشش کووم (2) د سلام او جوابِ سلام نه پس به په ګرم جوشئ سره مصافَحَه کووم [يعنې لاس ملاووم] (3) ښځپله او په نورو باندې د دُرود شريف لوستلو د پاره به صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! وايم. (4) ولے چې د خبرو کولو په وخت کښې د **مخاطَب** ګس په مخ نظر تينګول سُنَّت نه دي، لِهٰذا حتَّی الاِمکان [يعنې چې څومره کيدے شي] د خبرو آترو کولو په وخت کښې به نظر ښکته ساتم (د اِنفِرادي کوشش کولو په وخت کښې د نظر ښکته ساتلو په وجه به د نيکۍ د دعوت فائده اِنۡ شَآءَاللّٰهُ الکريم خو چنده زياته شي) (5) په سُنَّتو باندې د عمل کولو په نِيَّت به په مُسکا خبرې کووم (6) طنز [يعنې په چا پورې د سپکې وينا] او د آزادۍ د خبرو نه به ځان ساتم (7) د مخاطَب ګس د نفسياتو مُطابِق به د خبرو کولو کوشش کووم (8) په جوړو مَسئَلو چيړلو به هغه په تشويش کښې نه اچووم (9) بے ضرورته به د موجوده سياست او دهشت ګردۍ وغيره ذکر نه کووم (10 نه 12) د سُنَّتونه ډکه اجتماع کښې د شرکت، په مَدَني قافله کښې د سفر او په نيکو اعمالو باندې د عمل کولو د پاره به د هغه د ذِهن جوړَوَلو کوشش کووم (13) نوې اسلامي وررور ته به يو دَم د ګيرې پريښودو او د عِمامه شريفې په سر کولو د تَلقِين په ځائے د لـمونځ فضيلت وغيره ښايم. (خو! د چا سره چې خبرې کوئ او هغه ”ګيره خرئيلې“ وي او

غالِب ګمان دا وي چې که ده ته د ګيرې پريښودلو اُووايم نو اُوبه ئې مني، نو بيا خو به د ګيرې خرئيلو نه منع کول واجب شي، خو عام طور په نوي اسلامي ورور باندې "غالِب ګمان" کيدل ګران وي، د عمل کولو د جذبے د کمئ دور دے، په نوي اسلامي ورور باندې د ګيرې پريښودو د زياتو کوششونو کولو په وجه کيدے شي چې بيا د پاره هغه ستاسو مخې ته راتلو نه ډډه کول شروع کړي) (14 ) که د مخامخ کس د خبرو انداز ناخوښه [يعني نامناسبه] وو يا ئې د ټوقو [يعني په ما پورې د ټوقو کولو] انداز وو نو د پوهيدو باوجود به د څه جوابي کاروائي نه بغير په صبر او نرمئ سره د عاجزئ په انداز کښې خبرې جاري ساتم (15) که د اِنفِرادي کوشش ښه نتيجه را اُووَتله نو د **الله تعالیٰ** کرم به ئې ګڼړم او د **الله تعالیٰ** شُکر به ادا کووم، او که څه ناخوشګواره خبره پيښه شوه نو مخامخ کس د سخت زړه والا وغيره ګڼړلو په ځائے به د خپل اِخلاص کمے ګڼړم.

## د مُبَلِّغ د پاره اَهم ترين مَدَني ګلونه

**حوصله** غټه ساتل پکار ده او ناکامي خو هډو شته نه دے ځکه چې د ښه **نِيَّت** په صورت کښې د نيکئ په دعوت مُشتَمِل اِنفِرادي کوشش کوونکے د آخِرت د ثواب حقدار دے. حُجَّةُ الاسلام حضرت سَيِّدُنا ابو حامد محمّد بن محمّد غزالي رحمۃ اللہ علیہ نقل فرمائي: يو بُزرګ خپل ځوئ ته د نصيحت **مَدَني ګلونه** وړاندې کول ورته اوئې فرمائيل: د نيکئ دعوت ورکوونکي ته پکار دي چې هغه په ځان کښې د صبر عادت پيدا کړي او د **الله تعالیٰ** له طرفه د نيکئ د دعوت په وجه په ورکړې شوي ثواب باندې يقين ساتي. چا ته چې د ثواب پوره يقين وي هغه ته په دې مبارك کار کښې تکليف نه محسوسيږي. (احیاءُ العلوم ج2 ص410)

میں نیکی کی دعوت کی دھومیں مچاؤں بدی سے بچوں اور سب کو بچاؤں

کرم اُوکړه د نيکئ دعوت چې خور کړم يا الله چې خپل ځان او نور هم بچ کړم د بدئ نه يا الله

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! ✿✿✿ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## دَ مُسَلسَل اِنفِرادي کوشش ميوه

د ضِیاءِ کوټ (سیالکوټ، پنجاب، پاکستان) د یو اسلامي ورور څه داسې بیان دے: د نیکۍ په لاره د روانیدو نه مخکښې زما حالت د بیانَولو قابل نه وو، زما ټول وجود په ګناهونو کښې ګَکړ وو، د خلقو سره د جنګ جَګړې کولو د پاره ما یوه جُدا ډَله جوړه کړې وه، زما د بدو خبرو او د بے حیائي د خبرو په وجه زما نه د سکول هلکان، اُستاذان او هیډماسټر وغیره ټول تنګ وو، په لار کښې بدنظري کول زما عادت وو، په مجازي عِشق کښې هم اخته ووم بلکه مَعَاذَ الله داسې داسې غلطو کارونو کښې اخته ووم چې د هغې د بیانولو هِمَّت نه لرم. د شرعي مسائلو نه د نابَلده (یعني نا واقفه) کیدو په وجه ماته دا هم نه وو معلوم چې د فرض غسل څه طریقه وي او په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې خو لوئے ګنهګاران هم خپل ګناهونه پریږدي او د اللہتعالیٰ په عِبادت کښې مصروف شي، خو افسوس په کروړونو افسوس! زه به په رَمَضانُ المُبارَك کښې هم په بازارونو کښې ګرځیدم او د بدنظرۍ په ذریعه به مې خپل تور زړه خوشحالَولو، زما اخترې به پارکونو کښې تیریدلې او د دولسم رَبِیعُ الْاَوَّل شریف مُبارَکه ورځ به مې په بازارونو او د سیل په مختلفو ځائیونو کښې تیریدله، چې کله به بَسَنت راغلو نو ټوله شپه به د خپل ګروپ سره د بَسَنت د خوشحالۍ کوونکو په شان په زیَړو جامو کښې د ګډا او شور شغرب په محفلونو کښې مشغوله اوسیدم. د الله تعالیٰ د یاد نه دومره غافِله ووم چې په میاشتو میاشتو به د جُمات په طرف نه ورتلم. زما والِد صاحِب یو لمُونځ ګزاره او پرهیزګاره انسان وو، هغه به راته ډیر زیات نصیحتونه کول خو ما به پرې هیڅ غوږ نه ګرَوَلو، زما د ګناهونو سپیره والے دومره زیات وو چې چا به زما صُحبَت اختیار کړو هغه به هم په ګناهونو کښې اخته شو. زما د دې غلطو کارونو په وجه به زما نه هر چا نفرت کولو. آخِر زما قِسمَت داسې رابیدار شو چې یوه ورځ زه د جُمات په خوا تیریدَم نو یو عاشقِ رسول راته د لمانځه دعوت راکړو، زما د انکار په وجه هغه ما ته ډیره زاري اُوکړه او زه ئې د لاس نه اُونیولَم او په محَبَّت ئې جُمات ته بوتلم. چې کله د لمانځه نه فارغه شُو نو یو اسلامي ورور **درس** شروع کړو، زه هم په درس کښې شریك

شوم، د درس په دوران کښې ما **د الله پاک د رَحمت او د بخښنې مُتَعَلِّق حکايتونه** واوريدل نو په ما کښې څه حوصله راپيدا شوه، د درس نه پس چې کله اسلامي ورونړو ما ته ډير د مَحَبَّت په انداز کښې د نيکئ دعوت راکړو نو زما د زړه دُنيا بدله شوه، ځکه چې زه د کله نه په ښه بد پوهه شوے يم نو زما د ژوند دا اولنئ موقع وه چې زما په شان ګنهګار او د نفرت قابل کس سره چا په دومره مَحَبَّت خبرې اوکړې. په ما باندې اِنفِرادي کوشش کوونکي زما همزولي مُبَلِّغ ته چې ما د خپلو ګناهونو قِصَّه بيان کړه نو هغه د رَحمَت نه د ډکو خبرو په ذريعه ما ته څه په داسې انداز کښې حوصله راکړه چې زما زړه مُطمَئِن شو، او زه پوهه شوم چې زما د پاره د **توبے** دروازه بَنده نه ده، **الله تعالىٰ** بخښونکے او مهربانه دے بس ما د خپلو ټولو تيرو شوو ګناهونو نه **توبه** اُوکړه. دا زما د ژوند اولنئ ورځ وه چې ما پکښې پينځه وخته لمُونځونه ادا کړل. بيا چې کله د سالانه امتحان نه پس چوټيانې اوشوې نو زما دا عادت جوړ شو چې زه به د هغه عاشِقِ رسول سره سحر جُمات ته تلَم او تقريباً د دولسو بجو پورې به مې د لـمانځه مسائل او سُنتونه زده کول. څه موده پس شيطان يو ګُزار اُوکړو او زه د داسې ناپوهه خلقو په صحبت کښې ګرفتار شوم چې هغوئي زه د هغه مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي په باره کښې په بدګمانئ کښې اَخته کړم، آه! ما خپل هغه مُحسِن [يعني احسان مند] او زما سره ښيګړه کوونکے اسلامي ورور خپل دُښمن او بدخواه اوګڼړلو او د چا د خُلې نه مې د هغه عاشِقِ رسول د غيبتونو اوريدلو په وجه ښه او نيك صُحبَت پريښودو او تقريباً د يو کال پورې بيا د بَدو خلقو سره په ناسته ولاړه کښې ګرفتار شوم او په دې دوران کښې ما بيا هغه خپل زاړه حرکتونه شروع کړل. خو د سرکارِ غوثِ اعظم رحمۃ اللہ علیہ غُلامي مې په تقدير کښې ليکلې شوې وه، لِهٰذا قِسمَت راسره يو ځل بيا مرسته اُوکړه، هغه داسې چې يوه ورځ زه د چوټئ په وخت کښې د فيکټرئ نه بيرته راتلم او د خپل عادت مطابِق په اخوا ديخوا کتلو او د بدنظرئ په بد آفت کښې ګرفتار روان ووم او په لاره تلونکي خلق مې چيړل چې ناڅاپه مې نظر په يو داسې عاشِقِ رسول پريوتو چې هغه سپينې جامے

اغوستي وي او د شني شني عِمامي تاج ئي په سر کړے وو، د حيا نه ئي ښکته کتل او زما طرف ته راروان وو ، د هغه په مخ مي چي د پرهيزګارئ نُور اوليدو نو زه په خپلو ګناهونو پښيمانه شوم، ما د هغه سره مُلاقات اُوکړو، هغه په ډيره ګرم جوشئ سره زما سره ملاقات اُوکړو، د هغه سره مي پيژندګلو پيدا شوه او بيا ورو ورو ما د هغه صُحبَت اختيار کړو، د هغه اسلامي ورور په لُمونځونو کښي اِستِقامَت د رشك قابل وو. د دعوتِ اسلامي په باره کښي زما په زړه کښي نيك ګمان يو ځل بيا قائم شو، هغه اسلامي ورور زه د ځان سره بينُ الاقوامي د سُنّتو ډکي اِجتِماع ته هم بوتلم، د اجتماع نه د بيرته راتلو په وخت کښي زما په سر سپينه ټوپئ وه ، بيا مي وروستو عِمامه شريف هم په سر کړه او د دي ليك په وخت کښي اَلْحَمْدُلِلّٰه زه د دعوتِ اسلامي په عالَمي مَدَني مرکز فيضانِ مَدِينه بَابُ المَدِينه کراچئ کښي مدني قافِله کورس کووم.

مُعترِف ہوں گناہ کرنے میں کوئی چھوڑی نہیں کسر آقا
پھنس گیا ہوں گنہ کی دلدل میں ہو کرم شاہِ بحر و بر آقا
میں گنہگار ہوں مگر قرباں
تیری رحمت کی ہے نظر آقا (وسائل بخشش ص350.351)

قائل يم د خپلو ټولو ګناهونو پريښي مي نه دے هيڅ ګسَر آقا
نښتے يم د ګناه په دَلدَل کښي اُوکړه کرم شاهِ بحر و بَر آقا
زه ګنهګار يم خو له تا نه شم قربان ستا د رحمت دے په ما نظر آقا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! تاسو اوليده! بيا بيا په ګناهونو کښي اخته کيدونکے ګس آخِر د دعوتِ اسلامي د دِيني ماحول په بَرکت په نيغه لاررروان شو.يَقِيناًټول **ګناهونه** دپريښودو قابل دي، په ګناهونو کښي د هيڅ قِسمَه خير نشته، د **ګناهونو** نه د ډډه کوونکو په حوصله افزائي او د خپلو عِبادتونو د صِفَت نه د بچ کيدو په تلقين باندي مُشتمل "د نيکئ دعوت" واورئ.

چنانچه د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارے مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي د ترجَمے والا پاكِيزه قُرآن ''كَنْزُ الْاِيمان مع خَزائِنُ الْعِرفان'' صفحه 973 پاره 27 سُوْرَةُ النَّجم آيت 32 كښې **الله** پاک اِرشاد فرمائي:

اَلَّذِيْنَ يَجْتَنِبُوْنَ كَبٰٓىِٕرَ الْاِثْمِ وَ الْفَوَاحِشَ اِلَّا اللَّمَمَ ؕ اِنَّ رَبَّكَ وَاسِعُ الْمَغْفِرَةِ ؕ هُوَ اَعْلَمُ بِكُمْ اِذْ اَنْشَاَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ وَ اِذْ اَنْتُمْ اَجِنَّةٌ فِیْ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ ۚ فَلَا تُزَكُّوْۤا اَنْفُسَكُمْ ؕ هُوَ اَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقٰى ﴿۳۲﴾

مفهوم ترجمۂ كنزُالاِيمان : هٰغه خلق چې د غټو ګناهونو او بے حيائي نه ځان ساتي خو دومره چې ګناه ته نزدې شي او منع شي بيشكه ستا د رَبّ بخښنه فراخه ده. هغه تاسو ښه پيژني، تاسو ئې د خاورې نه پيدا كړئ او كله چې تاسو د خپلو ميندو په ګيډه [حمل كښې] وئ، نو خپلو ځانونو ته پاك مه وائې، هغه ته ښه معلوم دي څوک چې پرهيزګار دي.

## د آيتِ مُبارَكه تفسير

صدرُ الاَفاضِل حضرت عَلَّامه مَولانا سَيِّد مُحَمَّد نَعِيمُ الدِّين مُراد آبادي رحمۃُ اللہِ علیہ فرمائي: **ګناه** هٰغه عمل دے چې د دې كوونكي د عذاب حقدار وي، بحر حال د **ګناه دوه قسمونه** دي صغيره او كبيره. **كبيره** هغه چې د هغې عذاب سخت وي او بعضې عُلماء فرمائي چې صغيره هغه ده چې په هغې وَعِيد [يعني په قُرآن و حديث كښې د عذاب او د سزا خبر] نه وي [وركړے شوے] او كبيره هغه چې وعيد پرې وي او فَواحِش هغه دي چې په هغې حَدّ [يعني په دنيا كښې شرعي سزا] وي. د آيتِ مبارَكه د دې حِصّے ''خو دومره چې ګناه ته نزدې شي او منع شي'' نه لاندې فرمائي: چې دومره خو د كبيره [يعني غټو ګناهونو] نه د بچ كيدو په بَرَكت مُعاف كيږي. د آيت د دې حصے ''بيشكه ستاسو د رَبّ بخښنه فراخه ده هغه تاسو ښه پيژني'' نه لاندې فرمائي: **شانِ نُزول**: دا آيت د هغه خلقو په حق كښې نازل شوے دے كومو به چې نيكئ كولې او د خپلو عملونو صِفت به ئې كولو او وئيل به ئې چې زمونږ لمُونځونه،

زمونږ روژے، زمونږه حج. او د آيت د دې حصے "نو خپلو ځانونو ته پاك مه وائې" نه لاندې فرمائي: يعني په فَخر د خپلو نيكو صِفَت مه كوئ ځكه چې **الله تعالیٰ** د خپلو بندګانو د حالاتو نه خبر دے. هغه د هغوئي د شروع نه واخله د آخِرئ ورځې (يعني د پيدائِش نه واخله د مرګه) پورې د ټولو حالاتو نه ډير ښه خبر دے. په دې آيت كښې د **رِيا او ځان ښودنې او په خپله د خپل صِفَت كولو** نه منع فرمائيلې شوې ده، خو كه د **الله تعالیٰ** د نِعمَت د اِعتراف او په اِطاعت او عبادت باندې د خوشحالئ او په دې باندې د شُكر ادا كولو په نِيّت د نيكو ذِكر اوكړے شي نو دا جائز دي. او د آيت د دې حِصّے "هغه ته ښه معلوم دي څوك چې پرهيزګار دي" نه لاندې فرمائي: او هغه ته معلوميدل كافي دي، هغه بدله وركونكے دے، نورو خلقو ته د ښودنې او د نوم كولو څه فائده! (خزائن العرفان ص840، 841)

## د ټولو نه غوره اعمال

د قَبِيلَهٔ **خَثْعَم** يو كس په **بارګاهِ نُبُوَّت** كښې حاضر شو او اُوئې وئيل: "هغه تاسو ئې څوك چې د **الله تعالیٰ** د **رسول** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم كيدو دعوىٰ كوئ؟" اوئې فرمائيل: آو. هغه تپوس اُوكړو: د **الله تعالیٰ** په نِزد د ټولو نه غوره **عمل** څه دے؟ ارشاد ئې اُوفرمائيلو: په **الله تعالیٰ ايمان** راوړل. عرض ئې اُوكړو بيا كوم يو [عمل ښه دے]؟ ارشاد ئې اُوفرمائيلو: صِلهٔ رِحمي (يعني د خپلوانو سره ښه سلوك) كول. عرض ئې اُوكړو بيا كوم يو ؟ ارشاد ئې اُوفرمائيلو: د نيكئ حكم وركول او د بدئ نه منع كول. (مَجمَعُ الزَّوائِد ج8 ص277 حديث13454، مُسنَدِ اَبی یَعلٰی ج6 ص55 حديث6804)

## اے كعبه! ستا فَضاخومره ښكلې ده

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! بيشكه افضل او د ټولو نه اهم عمل **ايمان** دے او د ټولو نيكو اعمالو اُخروي [يعني د آخرت] فائدے هم په ايمان باندې د خاتمے سره مشروط دي. لكه څنګه چې په بخاري شريف كښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالْخَوَاتِيْم يعني د اعمالو دارومدار په خاتمه باندې دے. (بخاری ج4 ص274 حديث6607) يقيناً څوك چې مسلمان دے هغه ډير زيات خوش قِسمَته

دے. دمسلمان د فضيلت به څه وائي! حُضُور نبیِ کریم رَءُوفٌ رَّحِیم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم كعبهٔ مُعَظَّمَه ته مخاطِب شو او ارشاد ئي اُوفرمائيلو: "ته ښکُلې او ستا فَضا خومره ښکلې ده، ته خومره عظمت لرونکې ئې او ستا حُرمت (يعني عِزَّت) خومره عظيم دے، په هُغه پاك ذات مې دې قسم وي د چا په قبضهٔ قدرت کښې چې د مُحمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم ساه ده! د الله تعالیٰ په نِزد د مؤمن ځان او مال او د هغه نه د ښه ګمان ساتلو حُرمت ستا د حُرمت نه هم زيات دے." (ابن ماجه ج4 ص319 حديث 3932) څوك بدقسمته چې د ايمان د دولت نه محرومه وي هغه ته به په آخرت کښې د هيڅ قسمه خير او سُکون نه نصيب كيږي او هغه به هميشه هميشه د دوزخ په عذاب کښې اخته وي. د دوزخ حال اولولئ او اُويَريږئ چنانچه

## د دوزخ خوفناك حالت

د دعوتِ اسلامي د اِشاعتي ادارے مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنه چاپ شوي د 853 صفحو كتاب "جہنّم میں لے جانے والے اعمال" (جلد اوّل) صفحه 97 نه 98 كښې دي: اَمِيرُالمُؤمِنِين حضرت سَيِّدُنا عُمر بن خَطّاب رَضِیَ اللهُ عَنْه حضرت سَيِّدُنا كعبُ الاحبار رَضِیَ اللهُ عَنْه (مشهور تابعي بزرګ) ته اِرشاد اُوفرمائيلو: اے كعب (رَضِیَ اللهُ عَنْه)! مونږ ته د ويرې يو څو خبرې واورَوَئ! حضرت سَيِّدُنا كعب رَضِیَ اللهُ عَنْه د حُکم تعميل اُوکړو او عرض ئې اُوکړو: يا اَمِيرَالمُؤمِنِين! كه تاسو رَضِیَ اللهُ عَنْه د قيامَت په ورځ د اوياوُ انبياءِ كرامو عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام اعمال هم راوړئ او د محشر حالات اُووينئ نو هغه به هم ډير کم اوګڼړئ. دا ئې چې واوريدل نو اَمِيرُالمُؤمِنِين رَضِیَ اللهُ عَنْه د لږ ساعت د پاره سر ښکته كړو بيا ئې چې حالت لږ ښه شو نو ارشاد ئې اُوفرمائيل: اے كعب (رَضِیَ اللهُ عَنْه)! نور وايه. عرض ئې اُوکړو: يا اَمِيرَالمُؤمِنِين! كه په جَهَنَّم كښې د غوئې [يعني د غويا] د سپيږمے (يعني د غوئې د پوزې د سُورې) همره حصّه په مَشرِق كښې پرانستے شي نو په مغرِب كښې د موجود كس دماغ به د هغې د ګرمئ په وجه د خوټيدلو په وجه اُوبهيږي. د دې په اوريدو باندې اَمِيرُالمُؤمِنِين

رضی اللہ عنہ د (رِقَّت په وجه) [يعني د زړه د نري کيدو په وجه] د لږ ساعته پورې سر ښکته کړو بيا ئې چې حالت لږ ښه شو نو اوئې فرمائيل: اے کعب (رضی اللہ عنہ)! نور واوروه. عرض ئې اُوکړو: يا اَمِيرَالمُؤمِنين! د قيامت په ورځ به جَهَنَّم داسې تيز ګړزيږي چې يوه مُقَرَّبه فرِښته يا نَبيِّ مُرسَل به داسې نه وي چې هغه په زنګونانو اُونه غورزيږي او دا اُو نه وائي: رَبِّ! نَفْسِيْ! نَفْسِيْ! (يعني اے زما ربّه! زه ستا نه د خپل ځان د پاره سوال کووم) حضرت سَيِّدُنا کعبُ الاحبار رضی اللہ عنہ نور اُووئيل: چې کله ورځ د قيامَت راشي نو الله تعالیٰ به اوّلِين او آخِرين (يعني ټول خلق) په يو ميدان کښې راجمع کړي، بيا به فرښتے نازلې شي او صفونه به جوړ کړي. د هغې نه پس به الله تعالیٰ اُوفرمائي: اے جبرائيل (عليه السلام)! جَهَنَّم راوله. نو حضرت جبرائيل عليه السلام به جَهَنَّم داسې راولي چې هغه به په اويا زره جيلبونو راښکاږي. بيا به چې کله جَهَنَّم د مخلوق نه د سلو کالو د لارې په فاصله پاتې شي نو داسې په زوره به اوګړزيږي چې د هغې په وجه به د مخلوق زړونه اُودرَزيږي، بيا چې کله په دويم ځل اوګرَزِيږي نو هره يوه مُقَرَّبه فرښته او نَبِيّ مُرسَل به په سجده کښې پريوځي، بيا چې کله په دريم ځل اوګرَزيږي نو د خلقو زړونه به مرئ ته راپورته شي او عقلونه به ئې اُوبَريږي، تر دې چې حضرت سَيِّدُنا ابراهيم خَلِيلُ الله عليه السلام به عرض اوکړي: يا اِلٰهي عزوجل! زه ستا نه ستا د خليل کيدو په خاطِر صرف د خپل ځان د پاره سوال کووم. حضرت سَيِّدُنا موسٰی کَلِيمُ الله عليه السلام به عرض اوکړي: يا اِلٰهي عزوجل! زه د خپلو مُناجاتو په خاطِر صرف د خپل ځان د پاره سوال کووم. حضرت سَيِّدُنا عيسٰی روحُ الله عليه السلام به عرض اوکړي: يا اِلٰهي عزوجل! تا چې ما ته کوم عِزَّت راکړے دے د هغې په خاطِر زه صرف د خپل ځان د پاره سوال کووم. د هغې مريم رضی اللہ عنہا د پاره (هم) سوال نه کووم چا نه چې زه پيدا شوے يم. (اَلزَّواجِر عَنِ اقْتِرافِ الْکبائِر ج1 ص49)

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د دې روايت نه د جَهَنَّم د سختو په ښه شان اندازه لګيدے شي. په دې روايت کښې د انبياءِ کِرامو عليهم الصلوٰة والسلام د مقامِ خوف [د الله تعالیٰ نه د وېرې]

بيان هم دے، خو ياد ساتئ! چې دا حضرات معصوم دي او په روايت کښې بيان کړے شوے صورتِ حال به د قيامت په بعضو وختونو کښې وي کَنې هغوئي ته به په مَحشر کښې د هيڅ قِسم تکليف نه وي بلکه د الله تعالیٰ په عِنايت به د خلقو شَفاعَت کوي او ځپله به په اوچتو مقاماتو تشريف فرما وي.

مجھے نارِ دوزخ سے ڈر لگ رہا ہے　　ہو مجھ ناتُواں پر کرم یاالٰہی
جَلادے نہ مجھ کو کہیں نارِ دوزخ　　کرم بہرِ شاہِ اُمم یاالٰہی
تُو عطارؔ کو بے سبب بخش مولیٰ
کرم کر کرم کر کرم یاالٰہی

(وسائلِ بخشش ص82،83)

زه ويريږمه د نارِ دوزخ نه　　اُوکړه په ما کمزوري کرم يا اِلٰهي
ما اوساته د دوزخ د اور نه　　په خاطر د شاهِ اُمَم کرم يا اِلٰهي
بے سببه اُوبخښې ته عطّار يا اِلٰهي　　کرم اوکړه کرم، اوکړه کرم يا اِلٰهي

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد